## د MRSA عفونیت درملنه

درملنه 10-5 ورځې دوام کوي.

- هره ورځ په ورځ کې 2-3 ځله د پزې سورو په پای کې د باکتروبان (Bactroban) کریم پورې کړئ.
- ټول بدن، پشمول د ویښتانو د هیبیسکرب (Hibiscrub) سره هره ورځ پرې مینځئ. په یاد ولرئ چې د ګوتو مینځنو او پنجې هم پرې مینځئ. دغه صابون دوه ځله پرله پسې پورې کړئ.
- ځان د پاک جان پاک سره وچ کړئ.
- که چیرې MRSA په ستوني کې وموندل شي، نو لږترلږه په ورځ کې دوه ځله د کورسوډیل (Corsodyl) سره غرغره وکړئ.
- کالي، د تخت پوښونه او جان پاکونه هره ورځ بدل کړئ، او جان پاکونه او د تخت پوښونه په 60 درجو کې پرې مینځئ.
- د رطوبت عادي کریمونه مه کاروئ ـ دا د هغه محصول تاثیر له مینځه وړي چې ستاسو درملنه ورباندې کیږي. درملتونونه ځانګړي کریمونه لري چې تاسو یې د وچ پوټکي لپاره کارولی شئ.

عموما د ملهمو، پاکونکي توکو او د خولې مینځونکو لپاره باید ستاسو لخوا تادیه ونشي.

### د درملنې یا روغتیدو وروسته

د درملنې بشپړیدو وروسته د کنټرول بیلګې یوه، دوه او درې اونیو کې اخیستل کیږي. بیلګې په ورته ډول لکه د لومړۍ ورځې په څیر اخیستل کیږي؛ په پزه، ستوني او پتون کې د کاتن مالوچ سره. وړاندیز کیږي چې د کنټرول بیلګې 3، 6 او 12 میاشتې وروسته واخیستل شي.

ځینې وختونه درملنه باید څو ځله تکرار شي مخکې لدې چې دغه باکتریا په بشپړ ډول له مینځه ولاړه شي.